قيامت به تر هغه وخته قايم نشي تر څو چې وختونه را لنډ شي

له أبو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دى وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «قيامت به تر هغه وخته قايم نشي تر څو چې وختونه را لنډ شي، نو كال به د يوې مياشتې په شان وي، او مياشت به د جمعې په شان وي، جمعه به د يوې ورځې په شان وي، او يوه ورځ به د يو ساعت په شان وي" او ساعت به داسې وي لكه اور چې د كجورې پاڼې سوځوي».

[صحيح دى] [احمد روايت كړى دى]

رسول الله صلى الله عليه وسلم خبر وركوي چې د قيامت له نښو څخه يوه د وخت رانږدې كېدل دي. نو كال به لكه د مياشت په څېر تېريږي. او مياشت به داسې تېريږي لكه اونۍ چې تېريږي. او جمعه به داسې تېريږى لكه څرنګه چې ورځ تېريږي. او ورځ به داسې تېريږي لكه څرنګه چې يو ساعت تېريږي. او يو ساعت به داسې په تېزۍ سره تېريږي لكه څرنګه چې اور د خرما د ونې پاڼې سوځوي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/65027

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee